

# چا ته شکایت وکړو؟

## کله چې ستونزه ووینئ، سمدستي د خپل مخابراتي شرکت څخه مرسته وغواړئ.

که تاسو د خپل ټلیفوني خدماتو یا بیل په برخه کې ستونزه لرئ، سمدستي د خپل مخابراتي شرکت سره اړیکه ونیسئ تر څو هڅه وشي چې ستونزه حل شي.


- د مخابراتي شرکت د وړیا پیرودونکو خدماتو شمیرې ته زنګ ووهئ، یا که کولای شئ د انټرنیټ له لارې د دوی د پیرودونکو خدماتو د مرکز سره اړیکه ونیسئ.
- که تاسو د پیرودونکي د خدماتو د استازي سره ستونزه په خپل خوښه حل نه کړئ، نو د مدیر سره د خبرو غوښتنه وکړئ. یو لوړ رتبه کارمند ممکن د دې وکړای شي چې ستاسو ستونزه په ښه ډول حل کړي.

په یاد ولرئ چې ځینې وختونه په مخابراتي شرکت کې د یو شخص سره ژوندۍ اړیکه نیول څو دقیقې وخت نیسي، نو هغه وخت زنګ ووهئ، چې تاسو بیړه نه لرئ.

## که ستاسو مخابراتي شرکت درسره مرسته ونه کړي نو له CPUC څخه مرسته وغواړئ

که تاسو خپل مخابراتي شرکت سره اړیکه ونیسئ او ستاسو ستونزه حل نه شي، تاسو کولای شئ د CPUC د مصرف کونکو چارو څانګې سره شکایت ثبت کړئ. CPUC کولای شي ستاسو سره د ټلیفوني خدماتو یا بیل اړوند شکایتونو برخه کې مرسته وکړي، چې په دې کې دا موارد هم شامل دی، لکه هغه لګښتونو چې تاسو اجازه نه وي ورکړې، یا که ستاسو ټلیفوني خدمات له اجازې پرته بل شرکت ته بدل شوی وي. تاسو کولی شئ د CPUC سره د ټیلیفون، انټرنېټ، یا لیک له لارې اړیکه ونیسئ:

- **د ټلیفون له لارې:** 1-800-649-7570
- **انلاین:** https://ia.cpuc.ca.gov/cimsapp/
- **د پوست له لارې:** .CPUC Consumer Affairs Branch 505 Van Ness Ave
San Francisco, CA 94102



د ټیلیفوني خدماتو یا بیلونو په برخه کې د مرستي ترلاسه کولو لپاره ډیری لارې شته، لکه:

- د خپل مخابراتي شرکت سره اړیکه ونیسئ
- د CPUC سره اړیکه ونیسئ
- د FCC سره اړیکه ونیسئ

*په شاتنی برخه کې دوام لري*

## چا ته شکایت وکړو؟

د مختنه برخې څخه دوام لري



## که چیرې CPUC ستاسو سره مرسته نه شي کولای نو د نورو ادارو څخه مرسته وغواړئ

که ستاسو مخابراتي شرکت او CPUC ستاسو سره مرسته ونکړای شوه، نو که تاسو د هغو زنګونو په اړه پوښتنه لرئ چې له بل ایالت یا بل هېواد څخه شوي وي یا ورته شوي وي، تاسو کولای شئ د FCC سره اړیکه ونیسئ. تاسو کولی شئ د FCC سره له دې لاو اړیکه ونیسئ:

- د بریښنالیک له لاري: fccinfo@fcc.gov
- انلاین: www.fcc.gov/cgb/complaints.html
- د پوست له لاري: Federal Communications Commission Consumer & Govt. Affairs Bureau 445 12th Street, SW Washington, D.C. 20554
- د فکس له لاري: 1-866-418-0232
- د وړغیز ټلیفون له لاري: 1-888-225-5322 TTY: 1-888-835-5322

مخکې له دې چې د خپل مخابراتي شرکت سره اړیکه ونیسئ، چمتو اوسئ. خپل بیل، رسیدونه او نور هغه اسناد چې ورته اړتیا لرئ راټول کړئ، او مه هېروئ چې باید دا ولیکئ چې کله مو له شرکت سره اړیکه ونیوله، له چا سره مو خبرې وکړې او هغه کس ستاسو سره پر څه شي موافقه وکړه.

**د CBO د اړیکو معلومات:**

California Public Utilities Commission

**په ګڼو ژبو د اړیکو نیولو لارښوود او مرستې پروګرام**

**(TEAM) پروګرام**

www.cpuc.ca.gov/team-and-changes

teamandchanges@cpuc.ca.gov

که تاسو د خپل خدماتو وړاندې کوونکي سره ستونزه نه شئ حلولای، د خپل TEAM CBO سره اړیکه ونیسئ.